مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدابراهیم سپېڅلی

۲۰۲۶/۰۸/۱۷

# نیمهخوا بابی

د کندهار د اطلاعاتو کلتور ریاست د زاړه تعمیر په هغه اطاق کي، چي اوس د کندهار مجلې مدیریت دی یوڅو کسان په مجلس اخته دي.

مااجازه ورڅخه واخیسته او ترسلام وروسته د مجلس کوونکو په کتار کي پر یوه زړه چوکۍ کښېناستم.

په اطاق کي نه یوازی دغه یو څو چوکۍ، بلکي اکثره شیان او مېزونه زاړه دي.

په مجلس کي یوتن ،چي د ږیري یوڅو تارونه یې سپین دي، کندهارۍ کوچنۍ لنګۍ یې تړلې او خورا په ورین تندي ږغیږي هم ناست دی، خبري یې شمېرلې ، په ټول پوره او کله که یې د خبرو په منځ کي ظرافت مجلس نورهم  په زړه پوري کړي.

دانو تقریبا هغه د ۱۳۸۱ل کال هغه وختونه دي، چي د طالبانو حکومت د امریکایي (بي ۵۲) ډوله الوتکو په زور نړېدلی ،په ټول هیواد کي د ډموکراسۍ، دبیان ازادۍ، د ښځو، بشري حقونو او نوري شعاري خبري لکه تنور تودې دي.

زما څنګ ته ولسي شاعر اخترمحمد دلسوخته، چي د هغه وخت اکثره شاعران یې له نوم اود شعر له ویلو ځانګړي انداز سره بلد دي هم ناست دی.
دلسوخته، چي د خپل عادت له مخي په مجلس کي خپل نوبت ته ګوتي شمېري ،د موقع په پیداکیدو سره یې پر مخامخ ناست کندهارۍ لنګۍ تړلي کس ږغ وکړ

« یاره بابی صاحب ! د طالبانو په وخت کي مو ښه مشاعرې کولې ،اوس به څه کوو؟ »
ما د (بابي) نوم اوریدلی و، مګر مخامخ مي نه و لیدلی، د دلسوخته پوښتني نور ورته متوجه کړم .
د بابي تندی ورین سو او دلسوخته صاحب ته یې په خندا وویل، « هغه به کوو، چي ، ستاسوخوښه وي. »

د مجلس په وروستیو کي مي د بابي صاحب په غوښتنه ځان ورمعرفي کړی، چي ویه پېژندم دوهم وار  یې بیا روغبړ راسره وکړ، ځکه ما د کډوالۍ پرمهال کندهارمجلې، طلوع افغان ورځپاڼي او ارغند جریدې ته مضامین او شعرونه رالیږل.

بابي ته مي وویل، زه کندهار ته راکډه سوی یم او غواړم له پښتو ادب او مطبوعاتو سره د ځانګړي مینې له مخي ستاسو سره په ریاست کي کار و کړم ، عریضه یې راڅخه واخیستله ویل، سبا راسه !

سبا راغلم دادی تراوسه ددوی د هغو لاربښوونو او همکاریو په رڼا کي د کندهار په مطبوعاتي او ادبي کهول کي خدمت کوم.

عبدالمجید بابی د غلام حیدرخان بابي زوی، د عبدالله خان بابي لمسی او د محب الله خان بابي کړوسی  دی هغه د کندهار ښار د څلورمې ناحیې د بامیزو کوڅې د بابیانو په روڼ اندې کورنۍ کي په ۱۳۳۳ل کال کي دې فاني نړۍ سترګي رغړولي دي.

عبدالمجید بابي لومړۍ دیني زده کړې د موی مبارک په جامع جومات کي کړي دي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بابی د سردار داود خان د واکمنۍ پرلومړي کال ۱۳۵۲د لوی احمدشاه بابا له عالي لیسې څخه په ښو نومرو فارغ سوی او د استاد حیات الله رفیقي په لارښوونه یې د کندهار د ښوونکو د روزني په عالي مؤسسه کې داجتماعیاتوڅانګه ولوسته او په ۱۳۵۶ کال له یادي څانګي څخه په اوله درجه بریالی فارغ سو.

عبدالمجید بابي غوښتل خپلي نیمه لوړي زده کړي په کابل کي بشپړي کړي، خو د غوایي کودتا یې د زیاتو نورو افغان ځوانانو په ډول ارمانونه نیمګړي پرېښوول او بیرته کندهار ته راغلی.
بابي غوښتل، چي په کندهارکي د هیواد د نوي نسل روزولو ته ملا وتړي، چي د وخت د حکومت لخوا دوه کاله جبري عسکری ته ولیږل سو.

رسمي دندي:
عبدالمجید بابی د خپلي ژبي او ولس سره د ځانګړي علاقي له مخي په ۱۳۶۱ل د قومونو او قبایلوچارو په ریاست کي د جرګو مدیریت ته اوړه ورکړه.

په ۱۳۶۳ کال کي د کندهار د پوهني ریاست په چوکاټ کي د زرغوني انا منځني ښوونځي مسؤل او د کندهار د عالي دارالمعلمین د اجتماعیاتو ډیپارټمنټ افتخاري امراو ترڅنګ یې د عالي دارلمعلمین په IN سرویس کي اجتماعیاتو افتخاري درس هم ورکوی.

بابي د نوي نسل د روزولو سره د هغه میني له مخي چي دی یې کرار نه پرېښود، د مجاهدینو او بیا د طالبانو په وخت کي د کندهار په مشهوره مدرسه ( امام ابوحنیفه رح) کي هم بیلا بیل مضامین شاګردانو ته تدریسول.

د مخکني ولسمشر حامدکرزي په مؤقته اداره کي ۱۳۸۱ د کندهار اطلاعات کلتور رییس وټاکل سو، چي د دوی په راتګ سره د کندهار موزیم یو وار بیا له بنسټه ورغېد

کندهار عمومي کتابتون ، طلوع افغان ورځپاني، کندهار مجلي اوترټولو لا دا خبره د یادوني وړ ده، چی د انارګل دودیزه مشاعره د علامه رشاد بابا په لارښوونه اوددوی په هڅو پیل سوه، چي تراوسه هرکال د پسرلي په موسم کي د سلهاو شاعرانو په ګډون لمانځل کیږي.

له خپلو مامورین سره غوره چلند او مشوره یې د د ښه مدیریت یوه لویه نخښه وه.
بابي د ریاست ترڅنګ له ۱۳۸۵ – ۱۳۸۸ل کلونو پوري د قومونو، قبایلو او سرحدونو چارو د ریاست له لوري د ولایت په کچه د مشورتي جرګي منشي هم ؤ.

بابی شاعر، لیکوال، خطاط، د تاریخ ښوونکی او تکړه کارټونیسټ و، چي ډیرشعرونه، لیکني او کارټونونه یې په کندهارمجله او طلوع افغان ورځپانه کي خپاره سوي دي.

هغه په هره برخه کي یوشمیر اثار پنځولي، چي دغه لاندي ۳کتابونه یي چاپ او ۸ نورکتابونه یي د چاپ لار څاري.

۱: پېنته اوښکه ( شعري ټولګه)
۲: ویرني او ستاینې ( شعري ټولګه)
۳: جغرافیایي سیند ( قاموس)

د ۱۳۸۸ کال د کب میاشتي د پنځم سهار نهه نیمي بجي وې، عبدالمجید له کوره دفتر ته په پښو روان و، چي د ناڅرګندو وسله والو لخوا شهید سو.
قالوانالله واناالیه راجعون

روح يې ښاد او پر ګور يې رحمتونه
له بابي څخه یوه کونډه میرمن، دوه زامن او دوې لوڼي پاته دي.

یادونه، دغه لیکنه د عبدالمجید بابي په پنځمه تلینغونډه کي اورول سوی ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ